لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ، مَنْ ضَارَّ ضَرَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ شَاقَّ شَقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ». " نه ضرر رامنځته کول شته او نه بل چاته ضرر رسول، چا چې - بل ته - ضرر ورساوه نو الله تعالى به هغه ته ضرر ورسوي، او چا چې په نورو سختي وکړه الله تعالى به پرې سختي راولي

له ابو سعيد الخدري رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ، مَنْ ضَارَّ ضَرَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ شَاقَّ شَقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ». " نه ضرر رامنځته کول شته او نه بل چاته ضرر رسول، چا چې - بل ته - ضرر ورساوه نو الله تعالى به هغه ته ضرر ورسوي، او چا چې په نورو سختي وکړه الله تعالى به پرې سختي راولي"

[د شواهدو په اعتبار صحيح دى] [الدار قطني روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې له ځان او نورو څخه د هر ډول ضرر او ضرري پديدې دفع کول واجب دي، نو د هيڅا لپاره دا جواز نه لري چې خپل ځان او يا نورو ته زيان ورسوي. او ورته روا ندي چې د ضرر په مقابل کې په ضرر لاس پورې کړي، ځکه چې يو ضرر په بل ضرر سره له منځه نه وړل کيږي مګر دا چې قصاص وي، هغه هم له تيري پرته. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو کسانو لپاره د ضرر ګواښونه تشريح کړل چې خلکو ته زيان رسوي او د هغه چا لپاره سختي چې په خلکو باندې سختي کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4711